# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانيستې داوطلبي

**پروژه:** د معلوماتی تکنالوژی آمریت لپاره د 61 موقعیت V SATانټرنټ خدماتو چمتو او تدارک کول

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره:DAB/1401/NCB/NCS02**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1401/NCB/NCS02** داخلي پرانيستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **د تحویلی جدول مطابق** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستې پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (naqib.rassooli@dab.gov.af) بربښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**٦. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکی 1401/05/05 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین/نغدی پیسی

۸. **د آفر د تضمین مبلغ:** **118,560/ یو سل او اتلس زره او پنځه سوه او شپیته افغانی**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1401/05/05 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵،۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنیکي ظرفیت: داوطلب باید هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنیکي ظرفیت د لاندې معیارونو پوره کولو ښکارندوی وي.

د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

داوطلبان باید د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تیرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (یو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکارندوی وي. د تدارکاتو د کړنلارې د ۵ شمېرې حکم او د تدارکاتو د قانون ۸ مادې سره سم د یادو توکو د چارو لپاره د ورته کاري تجربې معیار اړین نه دی.

2- د نغدي شتمنیو او یا اعتباري اسانتیاوو او د داوطلب د نورو خالص قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانیستنې پورې **ټولیز ارزښت** (مبلغ *1,482,000*/ **یو میلیون او څلور سوه او دو اتیا زره افغانی**)

۱۰. آفر پرانیستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسلیمی د وروستی نیټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کیږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امریت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړیکو شمیره: 202106692 (0) 93+

بریښنالیک: najib.safi@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af